


د مولانا سعيد افغاني :آزاده ، تولنيزه،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



نجم الرحمن « مواج »

د نشر نیټه : 21 جولای 2018 م

# د مورنی ژبی ونده د ما شوم په شخصیت جوړونه کی

په سویډ ن هېوادکی د دوستی فرهنګی ټولنې مشرتابه پلاوی اونورو، ورته فرهنګی ټولنو مشرتابه پلاوی ته د زړه له تله مبارکی اوکورودانی وایم، چی په پخپل زیاردا ویاړلی هڅه پا لی. ویاړلی شریکی هڅې ته مودلاغځیدلوپه هیله موږټولوته ښایی چی ترخپلی وسې ما دی اومانوی مرستوته په ګډه سره اوږه وکړو.

## مورنۍ ژبه

مورنۍ ژبه ده هرچا لره ګرانه
وپوښتی که له ماشوم بوډا له ځوانه
مثا لونه يې دوه وړ د قنا عت د ي
ښا يی زده شی له قرآن وله آ ذانه
چی کړې خبرې خپلې مور پرژبه
ځوک به دې نه لګوي تورپرژبه
که له پردي ژبې هم اور، ورو ي
ته پرخپل لاس لګوي اورپرژبه
هر یوه لیکي چی پرخپله ژبه
زه به هم نه لیکم پربله ژبه
د نورو ژبو درناوې لپاره
ښایی چی ولیکو پر خپله ژبه
* * *
مواج

مورنۍ ژبه دهرانسان هویّتی شخصیت په ګوته کوی. که د بلی ژبي زدکړي لپاره پخپله ژبه کوم قاموس لټوویوه ګټوره هڅه ده، خوکه دخپلی ژبی زدکړې لپاره کومي پردۍ دیکشنرۍ ته اړشو، دا هغه وژونکی اړتیا ده چی فرهنګی اسا رت موترپا یه مریی سا تلای شی، یعنی بی هویته ژوند .

پد ې اړوند له تېروزما نورا پد ي خوا ډیری اغیزمنی هڅې روانی دي. ژوند ی ملتونه چی دکلیمی په رښتنی مانا خپلواک پا تی دي ،دخپل مورنی ژبی غځولولپاره یی بنسټیزکارونه ترسره کړي او د همدي بریمنی هڅي پرپل ورخ تروړخي دلا بریمنوګامونوپورته کولوجوګه شوی دي .

د ټولني فرهنګی سم وچټک پرمختګ لپاره د ماشوم سمی روزنی ته ژوره پا ملرنه هغه ته په مورنی ژبه زدکړه یوله نه انکارید ونکی لاملونونه ګڼلای شوو .
که د یوی پرمختللی ټولنی ما شومان پخپلو ژبوزدکړی بشپړی کړی دپردیو ژبوپه زدکړه کی به له ډیروستونزوسره مخ نشي، پدی مانا چی دخپلی ژبی په تاریخ بشپړتیایی پراوونو، ګرامر،دژبپوهنی اصولو، کارولو ،دودولواونوروټولو ګټوروبرخوکی کره مالوما ت برلاسی دوی ته د هری نا آشنا اوپردی ژبی زدکړه کی بریمن بریښنی .
کومی ژبی چی اوس ورته د تخنیک و سوداګری یا هم په نورونومونو ژبی یا دولای شوو، ښنا یی پخپلوټولو ورځنیوچاروکی دی اسا سی ټکی ته عملی رغنده کارونه ترسره کړی.په تیره په اوسنی ځلوینبت کلنه ملی غمیزه یانی نیا بتی جګړه کی.

که ما شوم له خپلی مورنۍ ژبی اوویا ړین تاریخه بی خبروبی برخه پا تی شی دا پخپله له ځانه پردیوالی (الیناسیون) را مینځته کوی چی بیرته جبرانول یي تردیره نا شونی ښکاری اوپُښت په پُښت به له خپل سوچه مورنی ژبی اوفرهنګه لیري پا تی شی او دا فرهنګی بیلتون به راتلونکی پُښتونه همدا سی بی پروا اوبی هویته وروزي.
پدې تراو هم زموږ زړه سوا ند ا دبپا ل مشرا ن پخپله وخت په شعری ژبه دا سی ژوره وګټوره نغوته کړی ده چی ما نا یی دا ده:
« که د پردی ژبی زدکړه کما ل وی نو خپله ژبه هیرول بی کما لی ده » .

همداراز نلسن ما ندیلانړیوال نامتومبارز دمورنی ژبی په اړوند دا سی څرګند ونه لري:
« ، که له یو چا سره په داسي ژبه خبرې وشي چي هغه پرې پوه شي، نو ستا خبره به د هغه مغزو ته ولوېږي، خو که له هغه سره د هغه په مورنۍ ژبه خبرې وکړې نو دا به د هغه زړه ته ولوېږی . »
ژان پل سا رترفرانسوی فیلسوف خپله ژوره اندیښنه داسی څرګندوی:
سارتر وایي: « پردی ژبه تاسو په تنهایي کي هم ازاد سوچ کولو ته نه پرېږدي، او تل به ستا د څرګندتیا/اظهار پر وړاندې خنډ جوړېږي . »
د فرانسي ستر فلسفي ژان پال سارتر د افریقایي ژبو په باب په خپله لیکنه کې وایي، چې دغه ولس د اوږدې غلامۍ له کبله د فرانسي ژبې ویلو ته اړوېستل شوی دی چې د دې له کبله دغه ولس پراخ بشري علمي استعدادونه بایللي دي. »
جواهرلعل نهرو دهند فقید ځواکمن صد راعظم پی مهم اصل ته داسی لیکی
« مورنۍ ژبه د یوه ولس ټولنیزه یا سماجي پوهه ده او پکار ده چي په همدې ژبه کې ماشومانو ته زده کړې ورکړل شي.» دئ لیکي چې :
په بهرنۍ ژبه د زدکړو لوی نقصان دا رامنځ ته کیږي چې د یوې ټولنې باسواده طبقه له خپله » ولسه بېله شي. دی یې مثال داسي راوړي چې د یوه کور په لاندې پوړکې ولس وي او په بره پوړ کې یې تعلیم یافته کسان. او هغوی بیا له بالا څخه پر لاندې پوړ چې ولس پکې» دی خپل امر صادروي او دغه امر کله هم پر ولس نه پلی کیږي

پرمختللی متمدنی تولنی چی په پرورسته پا تی کړی شویو هیوادونو دخپلو شومو استراتژیوپه کارولونا روالوبی کوی خوهمدا اوس وینوچی هریوه پخپل واردخپلو ژبو او فرهنگ لا خوندی ساتلولپاره په نه سترړي کید ونکیو هلوځلوژبنی اوهمد رازفرهنگی اکاډیمی ګانو مدنی تولنولا بداینی لپاره په تول وس کارکوی ،چی د ا بیلګی زموږلپاره دیوه لاربنود په توګه ژوندي مثا لونه کید لای شي .

په وارواز تجربوثابته کړي چی هیوادونه د جګړی ناورین له کبله دمورنی ژبي ترڅنګه فرهنګی زبنت زیانونه هم ګا للی دی اودا زیا نونه ځوارځیزدي. له یوي خوا ښوونځیوته نه لاس رسی،جبری کډوالی،بی ځایه کیدل اوهم داقتصا دی وضعی سخته ستونزه .

لومړي :

بهرته کډوالی،له مورنی تا توبی اوژبی بیلتون پخپله هغه رنځ دئ چی څلویښت کلن ځورونکی ناورین موږیی دهمدي غم په تغرکینولی یوو.

په بهرکی دبهرنی ژبی اوفرهنګ سره جبری روږدیدل نه یوازی د ماشومانوپرتنکی انګیر دهرڅه هیرولودوره اولږه شیندی بلکی ځوانان اوآن دکورنی مشران هم له پخوانی وطنی مینه ناکی جا ذبی بی لاری کوي.

بهرکی میشت د فرهنګی ژمنوتولنو تاریخی رسا لت دئ چی دې تکی ته په ژوره همیشنی هڅه ژوندی وساتی،پخپلوورځنیو چاروکی دخپلوتجربو ښې پا یلی له نورو،ورته تولنوسره په میشت هیواد اوهم نوروهیوادونوکی شریک کړي.

دوه یم :

په مورنی ژبه کتا ب لوستل، اودکتا ب غورچاڼ ما شوم ته اورول. تعلیمی اواخلاقی کیسی اوروایا تونه چی پرماشوم ښه لګی اوپوره مطلب تری اخیستئ شی په تکراراورل اوبیرته دمطلب پوښتنه، دځواب اوریدل په مورنئ ژبه.

دریيم :

په کوردننه ما شوما نوته د مورنی ژبی اسانتیا وی برابرول د ماشوم خپلی کورنی دنده ده، په کومی کورنی کی چی لوستی وی ښا یی دماشوم له روحی ا وژوند چاپریال سره سم دا دنده ترسره کړي.

کومی کورنی چی له اوسنی تخنیکی بریښنایی اسانتیا وو کارولوشونتیا لری له موبا یله تر کامپیوتره اونورو،ورته وسیلونه دی دګتي پورته کولوچاره له لومړی تولګی نه دی ماشوم پام دې ارزښتناکی تکی واړوي.

څلورم :

دما شوم پوهی کچی لوړولولپاره ځانګړیوخپرونولکه: کمکیانوانیس، کارتون، ډرامی، مشا عری راډیو خپرونی اوداسی نوروبرخوته غځونه چی د ماشوم ذهنی ودی ته ګټوربریښنی .

پنځم :

ما شومانوته په وړکتون کی د خپلی ژبی ښوونی ته ژوره پا ملرنه د مورنی ژبی غوړیدا ستن ګڼل کیږی .

داتجربه هغودرنوفرهنګپا لوته دیره ښه څرګنده ده چی بهرمیشت دی اودکلونوتجربه ورسره مله ده.

په تلوتلوکی دمورني ژبی ارزښت پا یښت اود ماشوم شخصیت سمی جوړونی په هیله .

*****

نجم الرحمن « مواج »

بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org